ISSN
P: 2788-4155
E: 2788-6441
علمي - څېړنيزه مقاله
د ترلاسه کولو نیټه: ۱۳/ ۰۶/ ۱۴۰۳
د منلو وروستی نیټه: ۲۳/ ۰۹/ ۱۴۰۳
د خپرولو نېټه: ۰۱/ ۱۰/ ۱۴۰۳
OPEN ACCESS <https://ghalibqjournal.com/index.php/ghalibqjournal>
DOI: https://doi.org/10.58342/ghalibqj.V.13.I.4.8
صص: ۱۴۵ – ۱۶۴



# د اسلامي فقهې او افغانستان مدني قانون له نظره د شرط د خيار آثار

معراج الدين امينزی*

**لنډيز**

کله چې په يو عقد کې د عقد يو يا دواړو لوريو تـه د شرط خيار وضع شي، نـو دا خيـار مختلف آثار رامنځته کوي. دا چې د اسلامي فقهې او افغانستان مدني قانون له نظره د شرط خيار د کومو آثارو درلودونکی دی، پدې څېړنه کې پرې بحث شوی. پـه تعاقدي چارو کې د عقدونو په اړه د غور کولو، د منـافعو د جلـب، د ضرر د دفعې او پـه تعاقدي برخه کې د شخړو د حل په منظور د خيار شرط د آثارو څېـړل خـورا مهـم دي. د څېړنې موخه دا ده چې د اسلامي فقهې او افغانستان مدني قانون له نظـره د شرط د خيـار آثـار روښانه کړو او پدې اړه د فقهې او مدني قانون احکام سره پرتله کړو. دا څېړنه کتابتوني اړخ لري او د موضوع په څېړلو کې له تشريحي او مقايسوي ميتود څخه استفاده شوې. د څېړنې پايلې ښيي چې د شرط د خيار له امله د عقد حکم نه مرتبيږي، د خيار د څښتن مال د هغه له ملکيت څخه نه خارجيږي، خو هغه لورى چې د خيار حق نه لري، د هغه په تړاؤ عقد لازم ګرځي، د خيار په موده کې عاقدين د عوضينو په سپارلو ملزم نـدي او که د خيار په موده کې په معقود عليه کې زياتوالی يا نقصان پيدا شي؛ نـو پـدې اړه پـه اسلامي فقه کې بشپړ احکام بيان شوي، پداسې حال کې چې د افغانستان پـه مـدني قانون کې د شرط د خيار د آثارو اړوند ټول موارد پېشبيني شوي ندي.

**کليدي ټکي:** اسلامي فقه، خيار، د شرط خيار، د خيـار آثـار، د افغانسـتان مـدني قانون.

---

*پوهنمل، د خصوصی حقوق ډیپارټمنټ، حقوق او سیاسی علومو پوهنځی، ننګرهار پوهنتون، جلال آباد، افغانستان (mairaj.ngr@gmail.com)

این مقاله تحت مجوز بین‌المللی Creative Commons Attribution 4.0 International License منتشر شده است.

Research Article
ISSN
P: 2788-4155
E: 2788-6441
Ghalib
Received: 03/ 09/ 2024
Accepted: 13/ 12/ 2024
Published: 21/ 12/ 2024
OPEN ACCESS <https://ghalibqjournal.com/index.php/ghalibqjournal>
**DOI:** https://doi.org/10.58342/ghalibqj.V.13.I.4.8 PP: 145 - 164

# The effects of the Option of a Condition from the Perspective of Islamic Jurisprudence and Afghan Civil law

Mairajuddin Aminzai *

**Abstract**

When a condition of choice is imposed on one or both parties to a contract, this option creates different effects. This study discusses the effects of the condition of choice from the perspective of Islamic jurisprudence and Afghan civil law. It is very important to study the effects of the condition of choice in contractual matters, to attract benefits, to prevent losses, and to resolve disputes in the contractual area. The purpose of the study is to clarify the effects of the condition of choice from the perspective of Islamic jurisprudence and Afghan civil law and to compare it with the provisions of jurisprudence and civil law in this regard. This study has a bibliographical aspect and a descriptive and comparative method was used in studying the subject. The results of the study show that the contract is not void due to the option clause, the property of the option holder does not leave his property, but the party who does not have the right to option is bound by the contract, the parties are not obligated to deliver compensation during the option period, and if there is an increase or decrease in the contract value during the option period, then complete provisions have been stated in Islamic jurisprudence on this matter, while the civil law of Afghanistan has not foreseen all the cases related to the effects of the option clause.

**Keywords:** Islamic jurisprudence, choice, conditional choice, effects of choice, Afghan civil law.

* Sinoer Teaching Assistant, Department of Private Law, Faculty of Law and Political Sciences, Nangarhar University, Jalalabad, Afghanistan (mairaj.ngr@gmail.com)

This article is licensed under a Creative Commons Attribution 4.0 International License.

## ۱. سریزه

د شرط خیار په حقیقت کې د عقد د نافذولو یا فسخ کولو هغه اختیار دی، چې د عقد لوریو یا ثالث شخص ته د عقد د انعقاد پر مهال د شرط د وضع‌کولو له مخې ورکول کېږي. د شرط د خیار له مخې د خیار څښتن کولای شي چې په مشخصه موده کې اړونده عقد تأیید یا هم فسخ کړي. کله چې د ټولو شرایطو مطابق د عقد یو یا دواړو لوریو ته د شرط خیار وضع شي، نو دا خیار د عقد، معقود علیه او د عقد د طرفینو په تړاو مختلف آثار رامنځته کوي؛ او ځینې وختونه بیا د عقد د لوریو ترمنځ پدې اړه یو لړ شخړې او اختلافات هم راپیدا کېږي. نو دا څېړنه د همدې مسألې د روښانه کولو په منظور ترسره شوې، چې د اسلامي فقهې او افغانستان مدني قانون د احکامو له نظره د شرط د خیار آثار بیان کړل شي.

په ورځنیو تعاقدي چارو کې د عقدونو په اړه د عقد کوونکو د ډېر غور او فکر کولو، د منافعو د جلبولو او ضرر د دفعې لپاره د شرط خیار د ډېر اهمیت لرونکی دی. د دې لپاره چې په ټولنه کې د افرادو ترمنځ پدې تړاو تعاقدي ستونزې رامنځته نشي، د لوریو څخه ضرر دفع شي او د ترسره کېدونکو عقدونو په اړه ښه غور او فکر وشي، د شرط د خیار د آثارو څېړل خورا مهم دي. له بلې خوا که د عقد د لوریو ترمنځ د شرط د خیار د آثارو اړوند شخړه رامنځته کېږي، نو د حقوقو د برخې مسلکي اشخاصو او د عدلي او قضایي ارگانونو کارکوونکو ته د شرط د خیار د آثارو په ماهیت او اړونده احکامو باندې پوهېدل خورا اړین دي، تر څو رامنځته شوې شخړې په ښه شکل حل او فصل کړي. همدارنگه دا لیکنه پدې اساس هم مهمه ده چې یاده موضوع پکې د افغانستان د مدني قانون او اسلامي فقهې د احکامو له نظره په مقایسه‌وي شکل څېړل شوې ده.

د خیار شرط د آثارو موضوع د اسلامي فقهاوو په کتابونو کې د هر مذهب د اصولو او احکامو په رڼا کې په خورا تفصیل سره بیان شوې ده. همدارنگه حقوقپوهانو هم په خپل لیکنو او کتابونو کې د شرط د خیار موضوع څېړلې او تشریح کړې ده. د افغانستان په مدني قانون کې د اسلامي فقهې د احکامو څخه په استفادې د شرط خیار او اړونده احکام یې په ډېر لنډ او اجمالي شکل سره د لسو مادو په ترڅ کې بیان شوي دي.

د دې څېړنې عمده موخه د شرط د خیار د مفهوم روښانه کول او د عقد، عاقدینو او د معقودعلیه په اړه د شرط د خیار د آثارو په اړه د اسلامي فقهې او افغانستان د مدني قانون د احکامو بیانول او پرتله کول دي. د څېړنې په ترڅ کې غواړم دا پوښتنې ځواب کړم چې د شرط

خيار څه مفهوم لري؟ کله چې د لوريو په توافق سره د شرط خيار وضع شي، نو دا خيار د عقد په حکم کوم اغېز لري؟ آيا د خيار په موده کې مبيعه او ثمن د خيار د خاوند له ملکيت څخه خارجېږي او کنه؟ که د خيار په موده کې په مبيعه کې زياتوالی يا کموالی رامنځته شي، نو آثار به يې چا ته متوجه وي؟ او په ټوله کې دې پوښتنې ته ځواب موندل چې د شرط د خيار د آثارو په اړه په اسلامي فقه او د افغانستان مدني قانون کې کوم ډول احکام پېشبيني شوي دي؟

د دې موضوع څېړنه کيفي بڼه لري، له کتابتوني روش څخه استفاده شوې او د مطالبو په څېړلو کې له تشريحي او مقايسه‌وي ميتودونو څخه ګټه اخيستل شوې ده. مونږ پدې څېړنه کې د اسلامي فقهاوو د کتابونو، د مدني قانون د احکامو، د حقوقپوهانو د ليکنو او کتابونو څخه استفاده کړې او ياده موضوع مو د اسلامي فقهې د څلور ګونو مذاهبو او افغانستان د مدني قانون د احکامو په حدودو کې څېړلې ده.

د څېړنې په پای کې دې پايلې ته ورسېدو چې د شرط د خيار له امله د عقد حکم متوقف کېږي، د خيار لرونکي عاقد په اړه عقد لازم نه ګرځي او د خيار په موده کې عاقدين يو بل ته د عوضينو په سپارلو هم ملزم نه دي. همدارنګه که د خيار په موده کې په معقود عليه کې زياتوالی يا نقصان پيدا شي؛ نو پدې حالت کې د شرط خيار مختلف آثار رامنځته کوي. د شرط د خيار د آثارو په اړه په اسلامي فقه کې په پوره تفصيل سره احکام بيان شوي دي، خو د افغانستان په مدني قانون کې د ذکر شوې موضوع په تړاو بشپړ احکام شتون نه لري.

## ۲. د شرط د خيار مفهوم او آثار

### ۲-۱. د شرط د خيار پېژندنه

د شرط خيار هغه خيار دی، چې له مخې يې د عقد يو لوری، دواړه لوري يا هم دريم شخص په يوه معينه موده کې د اړونده عقد د فسخې او بقاء حق لري (شلبی، ۱۴۰۵ ق: ۷۹۵؛ عبدالله، ۱۳۹۵ ش: ۱۸۲). په *مجلة الاحكام العدلية* کې راغلي: «يجوز أن يشترط الخيار بفسخ البيع أو اجازته مدةً معلومةً لكل من البائع والمشتري أو لأحدهما دون الآخر/ د بايع او مشتري څخه د هر يو يا د بل دريم شخص لپاره جايز دي، چې په معلومه موده کې د بيعې د فسخې يا اجازې خيار شرط کړي» (مجلة الاحكام العدلية، ۱۳۸۳ ش: ۳۰۰ ماده).

په *التعریفات للجرجاني* کې د شرط خیار داسې تعریف شوی: «أن یشترط أحدُ المتعاقدین الخیار ثلاثة أیام او أقل/ د شرط خیار دا دی چې د عاقدینو څخه یې یو عاقد د دریو یا کمو ورځو لپاره خیار شرط کړي» (الجرجانی، ب ت: ۷۴).

د دې تعریفونو له مخې ویلای شو چې په عقد کې دواړه لوری کولای شي چې د عقد په اړه د لا زیات غور په منظور دا شرط وضع کړي، چې په معینه موده کې اړونده عقد فسخ یا د عقد د دوام اجازه ورکړي. لکه د بیعې په عقد کې خرڅونکی اخیستونکي ته د یو څه وخت لپاره اختیار ورکړي تر څو اړونده څیز استعمال کړي، نو که خوښ یې شو عقد به دوام پیدا کړي او که خوښ یې نه شو، نو بېرته به یې ورته وگرځوي (لاهوری، ۲۰۱۰: ۵۸). یا دا چې مشتري بایع ته ووایې چې پدې شرط درڅخه مبیعه اخلم چې تر درې ورځو پورې د معاملې د فسخې حق ولرم. نو پدې صورت کې هغه تر مشخصې مودې پورې د عقد د دوام او فسخې اختیار لري. د خیار خاوند په معینه موده کې کولای شي چې عقد فسخ یا د عقد د دوام اجازه ورکړي (رسولی، ١٣٩٦ ش: ١٨٩)، که د خیار څښتن په معینه موده کې خپل حق اعمال او عقد فسخ کړي، نو عقد فسخ کېږي. ولې که د خیار څښتن په معینه موده کې خپل حق اعمال نه کړي، یعنې عقد فسخ نه کړي، نو عقد لازم گرځي (شایق، ۲۰۰۷: ۱۱۸).

د خیار شرط په وضع کولو ټول اسلامي فقهاء د نظر اتفاق لري. ولې که د بیعې له عقد څخه د مشتري موخه د اخیستل شوي مال څخه گټه پورته کول او د بایع موخه د پلورل شوي شي له قیمت څخه مستفید کېدل وي او دواړه د دې اراده ولري چې کله بایع د پیسو د بېرته اداء کولو توانایي پیدا کړي، نو بیع به فسخ کوي، نو د فقهاوو په نظر د دا ډول خیار شرط کول جایز ندي؛ بلکې دا کار سود گڼل کېږي، ځکه چې دا د قرض په معنی دی او هر هغه قرض چې د گټې شرط پکې موجود وي، د امت په اجماع سره حرام دی (ابن باز، ۱۴۳۳ ق: ۵۴ - ۵۵).

د افغانستان مدني قانون د شرط خیار تعریف کړی نه دی، خو د مدني قانون په دویم ټوک، دویم باب کې د ٦٥٢ څخه تر ٦٦٢ مادو کې د شرط د خیار ځینې احکام بیان شویدي. د مدني قانون د ٦٥٢ مې مادې له مخې عقد کوونکي کولای شي چې د عقد په وخت کې یا تر هغې وروسته چې زیاته موده یې درې ورځې وي، د فسخ کېدو خیار یا د عقد د دوام شرط کېږدي (مدني قانون، ١٣٥٥: ٦٥٢ ماده).

له امام ابن حزم (رح) پرته نورو ټولو اسلامي فقهاوو په عقد کې د شرط خيار تـه اعتبـار ورکـړی او د بېلابېلو شرعي دلايلو له مخې يې د شرط خيار مشروع ګرځولی او مشروعيت يـې د عقـد د اهـدافو منافي ندی ګڼلی (سميران، ۱۴۲۹ ق: ۱۳۸). د افغانستان مدني قـانون او امـام ابوحنيفـه (رح) لـه نظره د شرط د خيار موده درې ورځې ده. د اسلامي فقهې او مـدني قـانون لـه مخـې د شرط خيـار يوازې په هغو لازمو عقدونو کې د اعتبار وړ دی، چې د فسخې قابليـت ولـري. بـرعکس پـه هغـو لازمو عقدونو کې چې د فسخې قابليت ونه ولري او په غير لازمـو عقـدونو کـې د شرط خيـار وضـع کېدای نه شي.

**۲-۲. د شرط د خيار آثار**

**۲-۲-۱. د عقد پر حُکم د شرط د خيار آثر**

د شرط د خيار لومړی اثر دا دی چې د عقد د حُکم ثبوت ځنډوي. په همدې اساس په فـوري ډول د خيار د څښتن په حق کې د عقد عادي حُکم نه مرتبيږي؛ چې دا د امام ابوحنيفه (رح) او صـاحبينو متفق عليه نظر دی. البته د امام ابوحنيفه (رح) په نظر د عقد د مقابل لوري په حق کـې هـم د عقـد حُکم ځنډول کېږي. ولې د صاحبينو په نظـر د عقـد حُکـم يـوازې د خيـار د خاونـد پـه طـرف کـې ځنډيږي او د هغه شخص په حق کې عقد نافذيږي، چې د خيار حق ونه لري؛ ځکه چې د هغه په طرف کې کوم مانع شتون نه لري (الموسوعة الفقهية، ب ت: ۲۰/ ۱۱۹).

د خيار لرونکي ته د عقد حکم نه ثابتيږي؛ نو لدې څخه څرګنديږي چې که خيار دواړو عاقـدينو ته ثابت وي، نو فی الحال د عقد حکم نه مرتبيـږي. پـه همـدې اسـاس مبيعـه د بـايع لـه ملکيـت څخه نه وځي او نه هم ثمن د مشتري د ملکيت څخه خارجيږي او پـدې اړه احنـاف علـماء د نظـر اتفاق لري (برهانپوری، ب ت: ۴/ ۲۵۶).

دا ډول عقد د هغه عقد سره ورته دی، په کوم کې چې شرط وضع شـوی نـه وي. البتـه دا ډول عقد د شرط د خيار د غوښتنې له مخې د فسخې احتمال لري چې دې چارې د عقد حکم کمزوری کړی او د فسخې وړ يې ګرځولی دی. نو پر همدې اساس دواړو لوريو تـه د خيـار د شرط کولـو پـه حالت کې له سره د عقد لپاره حکم نه ثابتيږي او د خيار د سـقوط تـر مهالـه د عقـد حکـم موقـوف ګرځي؛ که د خيار څښتن د عقد اجازه وکړه؛ نو عقد د انعقاد له وخته منعقد ګڼل کېږي او که عقـد يې فسخ کړ، نو عقد له هماغه پيل څخه غير منعقد شوی بلل کېږي.

شوافع هم له احنافو فقهاوو سره ورته نظر لري. د دوی په نظر که دواړو لوریو ته خیار وضع شوی وي، نو عقد موقوف دی؛ مشتري ته به د مبیعې د انتقال حکم نه کېږي او نه به هم بایع ته ځانگړی کېږي، تر هغې چې خیار له منځه تللی نه وي (زحیلی، ۲۰۱۲: ۳/ ۱۸۴). د مالکي فقهاوو په نظر د خیار د محل ملکیت بایع ته پاتې کېږي او مشتري ته نه انتقالیږي. پر همدې اساس د خیار لرونکي عقد حکم دا دی چې عقد د نفاذ له مخې ممنوع وي؛ ولو که هر لوری د خیار خاوند وي (ابن رشد، ۲۰۰۹: ۸۷۹).

د افغانستان مدني قانون صریحاً د شرط د خیار له امله د عقد د حکم د موقوف کېدو په اړه څه ذکر کړي ندي، ولې ضمناً یې یادونه کړې چې خیار د عقد په حکم اثر پرې باسي او هغه داسې چې د یاد قانون د ٦٥٥ مادې په لومړۍ فقره کې ذکر شوي چې که په معاوضه عقدونو کې د شرط خیار د عقد دواړو خواوو ته مال ورکول شوی وي، د عقد بدلونه د یوه د ملکیت څخه هم نه وځي. همدارنگه د یادې مادې په دویمه فقره کې راغلي چې که یو لوري ته د شرط خیار ورکړل شوی وي؛ نو د خیار د څښتن مال د هغه د ملکیت څخه نه وځي او د بلې خوا مال هم د خیار د خاوند په ملکیت کې نه داخلیږي (عدلیې وزارت، ۱۳۵۵: ٦٥٥ ماده). نو څرگندېږي چې مدني قانون له مخې هم د شرط خیار د عقد حکم موقوفوي او دواړو لوریو ته کوم اثر نه رامنځته کوي.

**۲-۲-۲. د ملکیت پر انتقال د شرط د خیار اثر**

د ملکیت پر انتقال د خیار اثر نظر دې ته توپیر لري چې آیا دواړو لوریو ته خیار ورکړل شوی او که یو لوري ته. دواړه حالتونه په جدا ډول څېړو:

**لومړی: دواړو لوریو ته د خیار شتون**

کله چې دواړو لوري د شرط خیار ولري، نو له یو لوري څخه بل لوري ته د ملکیتونو د انتقال په اړه کوم تغیر نه رامنځته کېږي. مبیعه د بایع په ملکیت کې او ثمن د مشتري په ملکیت کې پاتې کېږي؛ چې دا د احنافو نظر دی (الموسوعة الفقهیة، ب ت: ۱۲۰/۲۰). امام کاساني (رح) وایي: عقد د حُکم په اعتبار د عوضینو په اړه نه منعقد کېږي، نو مبیعه د بایع په ملکیت کې پاتې کېږي او د مشتري ملکیت ته نه داخلیږي. همدارنگه ثمن هم د مشتري په ملکیت کې پاتې کېږي او د

بايع ملکيت ته نه داخليږي. ځکه دواړو لوريو ته د حکم د انعقاد په اړه موانع شتون لري او هغه خيار دی (کاساني، ۱۴۰٦ ق: ۵/ ۲٦۴ - ۲٦۵).

شافعي فقهاوو هم مشابه نظر بيان کړی؛ د دوی په نظر د ملکيت انتقال د خيار د مودې تر پای ته رسېدو پورې متوقف کېږي او يو لوری ته هم کوم غوره والی نشته. نو که عقد فسخ شي، د مبيعې ملکيت د بايع څخه نه ختميږي او که د عقد د دوام اجازه وشي، نو معلومېږي چې ملکيت د عقد له وخت څخه مشتري ته انتقال شويدی (الجزيری، ۱۴۲۴ ق: ۱٦۴). د حنبلي فقهاوو ظاهره رايه دا ده چې په خيار لرونکي عقد کې ملکيت د عقد د وخت څخه مشتري ته انتقاليږي، که څه هم خيار يو يا هم دواړو لوريو ته شتون ولري. دوی دا دليل بيان کړی، چې خيار لرونکی عقد د هغه عقد په څېر دی، کوم چې له خيار څخه خالي وي (زحيلی، ۲۰۱۲: ۳/ ۱۸۴).

د خيار د دې اثر په اړه ويلای شو چې که دواړو لوريو ته خيار ورکړل شوي وي، نو په مبيعه کې د بايع تصرف درست دی او که تصرف يې وکړ، نو خيار لرونکی عقد فسخ ګڼل کېږي. همدارنګه که ثمن کوم معلوم شی وي، نو د مشتري تصرف پکې سم دی. البته د خيار د مودې پر مهال په مبيعه کې د مشتري تصرف او په ثمنو کې د بايع تصرف له امله خيار باطل ګڼل کېږي (تقی عثماني، ۲۰۱٦: ۷۷ - ۷۸).

د افغانستان مدني قانون پدې اړه د احنافو او شوافعو نظر تائيد کړی، يعنې که دواړو لوريو ته خيار ورکړل شوی وي، نو د هېڅ لوري ملک د هغه له ملکيت څخه نه خارجېږي. د ياد قانون ٦۵۵ مه ماده وايي: «که په معاوضه کې د شرط خيار د عقد دواړو خواوو ته مال ورکول شوی وي، د عقد بدلونه د يوه د ملکيت څخه هم نه وځي» (مدني قانون، ۱۳۵۵: ٦۵۵ ماده). نو د اسلامي فقهې او افغانستان مدني قانون له نظره که دواړو لوريو ته د شرط خيار ورکړل شوی وي، نو د خيار د موجوديت له امله د عقد عوضين د دواړو خواوو په ملکيت کې پاتې کېږي او مقابل لوري ته نه انتقاليږي.

**دويم: يو لوري ته د شرط د خيار شتون**

کله چې د عقد يو لوري ته د شرط خيار ورکړل شوی وي او مقابل لوری د خيار حق ونه لري، نو پدې حالت کې به د خيار د محل يا معقود عليه ملکيت د چا سره وي؟ پدې اړه د فقهاوو ترمنځ د نظر اختلاف وجود لري، چې په لاندې دريو نظرونو کې راخلاصه کېږي:

**لومړی نظر:** که د عقد یو لوری خیار ولري او مقابل لوری یې ونه لري، پدې حالت کې معقود علیه د بایع په ملکیت کې پاتې کېږي او د مشتري ملکیت ته نه داخلیږي. دا داسې ده لکه چې معقود علیه د عقد د انعقاد څخه وړاندې د بایع په ملکیت کې وه؛ البته د دې نظر مطابق بیا دا توپیر نه کېږي چې خیار دواړو عاقدینو لپاره دی او که د یو عاقد لپاره. چې دا د امام مالک (رح) او د هغه د ملگرو قول دی او د امام لیث (رح) او امام اوزاعي (رح) هم همدا مذهب دی. مالکیانو دا مسئله د خپل دې قول له مخې بیان کړې چې وایي: د خیار بیع منحل ده، نه منعقده. نو د دې نظر له مخې مبیعه د بایع په ملکیت کې پاتې کېږي او مشتري ته نه انتقالیږي (ابن طاهر، ۱۴۳۰ ق: ۵/ ۱۹۳). مالکیان د خیار پر محل د مشتري قبضه د امانت قبضه گڼي چې ملکیت دې د بایع وي او ضامن یې هم وي. دوی استدلال کوي چې په هر عقد کې خیار موجود وي هغه غیرلازم دی، حکم پرې نه مرتبیږي او معقود علیه د بایع د ملکیت څخه نه خارجیږي. دا داسې گڼل کېږي چې د دویم لوري (مشتري) لخوا قبول ترسره شوی نه وي.

**دویم نظر:** که د عقد یو لوري ته خیار ورکړل شوی وي او مقابل لوری خیار ونه لري؛ نو د دې نظر مطابق، چې د مالکیانو یو قول دی، د معقود علیه ملکیت د مشتري گرځي، ځکه چې د عقد نافذیدل ملکیت ثابتوي، نه دا چې ملکیت انتقالوي (الموسوعة الفقهية، ب ت: ۲۰/ ۱۲۷).

**دریم نظر:** کله چې د عقد یو لوری د شرط خیار ولري او دویم لوری د خیار خاوند نه وي، نو پدې اړه دا دریم نظر د خیار څښتن ته په کتو یو څه تفصیل لري، چې دلته یې ذکر کوو:

که یواځې بایع د خیار څښتن وي او مشتري خیار ونلري، نو د معقود علیه ملکیت بایع ته پاتې کېږي، ځکه چې د هغه له لورې د خیار شتون د هغه د ملکیت د پاتې کولو لامل گرځي، نو ځکه مشتري ته نه انتقالیږي (سکروډهوی، ۲۰۰٦: ۸/ ۷۰). چې دا چاره د ځینو پایلو لرونکې ده او هغه دا چې مشتري د عقد سره سره هم د خیار په محل کې د تصرف څښتن نه دی او په اړه یې د بایع تصرفات نافذیږي. همدارنگه د بایع د تصرفاتو له امله عقد فسخ کېږي هم؛ چې دا د امام ابو حنیفه (رح) او صاحبینو ښکاره قول دی او د امام شافعي (رح) مذهب هم همدا دی (کاساني، ۱۴۰٦ ق: ۵/ ۲٦۴).

کله چې یواځې بایع ته خیار ولري، نو مبیعه د هغه له ملکیت څخه نه خارجیږي، ولې په مقابل کې یې ثمن د مشتري له ملکیت څخه خارجیږي، ځکه چې د مشتري په طرف کې عقد لازم گرځي. کله چې ثمن د مشتري له ملکیت څخه خارج شي، نو د امام ابوحنیفه (رح) په نظر د بایع

په ملکيت کې نه داخليږي، ځکه چې د دې کار له امله عوضين يعنې مبيعه او ثمن دواړه د يو شخص په قبضه کې پاتې نه شي. ولې صاحبين وايي چې دلته ثمن د بايع په ملکيت کې داخليږي او دا ځکه چې يو څېز بايد مالک ولري او يو شی بايد بې خاونده پاتې نشي- (زحيلی، ۲۰۱۲: ۳/ ۱۸۳).

البته که د عقد د انعقاد پر مهال يواځې مشتري د خيار څښتن وي او بايع خيار ونلري، نو د دې نظر مطابق په مبيعه کې د بايع ملکيت له منځه ځي، ځکه چې د هغه په حق کې کوم مانع نشته او عقد يې په اړه لازم گرځي. د خيار په محل کې تصرف د هغه شخص لپاره ځانگړی دی څوک چې د خيار څښتن دی، ځکه چې دا کار د هغه د گټې لپاره مشروع شوی او هغه مشتري دی. په همدې خبره امام ابوحنيفه (رح) او د هغه صاحبين اتفاق لري او د شافعي فقهاوو مذهب هم همدا دی (ابوغده، ۱۴۰۵ ق: ۲۶۹).

کله چې يواځې مشتري د خيار خاوند وي او بايع د خيار حق ونلري، نو مبيعه د بايع له ملکيت څخه خارجيږي، خو ثمن د مشتری د ملکيت څخه نه وځي. مبيعه چې د بايع له ملکيت څخه بهر شي، نو د امام ابوحنيفه (رح) په نظر د مشتري ملکيت ته نه داخليږي، ولې د صاحبينو په نظر د مشتري په ملکيت کې داخليږي (زحيلی، ۲۰۱۲: ۳/ ۱۸۳).

د افغانستان د مدني قانون د ٦٥٥ مې مادې په دويمه فقره کې د پورتنيو نظرونو څخه دريم نظر قبول شوی. ياده فقره پدې اړه وايي: «که د شرط خيار د عقد يوې خوا ته ورکړل شوی وي، د خيار د خاوند مال د هغه د ملکيت څخه نه وځي او د بلې خوا مال هم د خيار د خاوند په ملکيت کې نه داخلېږي» (مدني قانون، ۱۳۵۵: ٦٥٥ ماده). معنی دا چې که د عقد يو لوری د خيار خاوند وي او مقابل لوری د خيار حق ونه لري، نو د مدني قانون له مخې د خيار د څښتن مال د هغه له ملکيت څخه نه خارجيږي او هغه لوری چې خيار نلري، د هغه په حق کې عقد لازم گرځي او اړونده مال يې له ملکيت څخه وځي. همدارنگه کله چې د خيار نه لرونکي عاقد مال د هغه له ملکيت څخه خارج شي، نو د پورتنۍ مادې له مخې د خيار د خاوند په ملکيت کې هم نه داخليږي. معنی دا چې پدې مورد کې مدني قانون د امام ابوحنيفه (رح) نظر تأييد کړيدی.

**۲-۲-۳. د عقد د محل پر ضمان (تاوان) د شرط د خیار اثر**

دا چې د شرط د خیار په موده کې د خیار د محل د له منځه تللو تاوان به پر چا وي؟ پدې اړه د فقهاوو ترمنځ د نظر اختلاف موجود دی. احنافو پدې مسئله کې د لاندې څو حالتونو ترمنځ توپیر بیان کړی.

**لومړی:** کله چې یواځې بایع د خیار څښتن وي یا دواړه لوري خیار ولري او د مشتري له قبض څخه وړاندې د بایع په قبضه کې مبیعه هلاکه شي، نو تاوان یې پر بایع دی. پدې اړه امام ابوحنیفه (رح) او صاحبین د نظر اتفاق لري. د دوی له نظره مبیعه د بایع د ملکیت څخه نه وځي او د عقد په فسخ کېدو کې کومه ستونزه نشته. دا د هغې مطلقې بیعې په څېر دی، په کومه کې چې له سره خیار موجود نه وي (کاسانی، ۱۴۰۶ ق: ۵/ ۲۷۲).

**دویم:** که مبیعه د قبض او خیار د مودې له تېریدو وروسته د مشتري په قبضه کې هلاکه شي، نو تاوان یې هم پر مشتري دی. ځکه چې د خیار د مودې د تېریدو له امله بیع مطلقه شوې او پدې صورت کې تاوان د ثمنو پورې تړلی وي، ځکه چې مبیعه د بیعې له بشپړېدو وروسته هلاکه شوېده، نو پر مشتري د ثمنو ورکول لازم دي (خالد محمود، ۱۴۲۹ ق: ۳۹/۲).

**درېیم:** که بایع د خیار څښتن وي او مشتري په مبیعه قبضه کړې وي او د خیار په موده کې د مشتري په قبضه کې هلاکه شي، نو تاوان یې هم په مشتري دی. دا چې بیع د بایع د خیار له وجې موقوفه وه او د مبیعې په هلاکېدو سره فسخ شوه او کله چې محل له منځه لاړ شي، نو موقوف هم نه نافذیږي. پدې حالت کې د تاوان طریقه دا ده چې د قیمت په وسیله به یې تاوان ورکوي، پدې شرط چې مثلي شی نه وي او که شی مثلي وي بیا به د مثل په وسیله تاوان ورکول کېږي (سکروډهوی، ۲۰۰۶: ۸/ ۷۰ - ۷۱).

**څلورم:** که مشتري د خیار څښتن وي، په مبیعه قبضه وکړي او د خیار په موده کې د هغه په لاس کې هلاکه شي، نو تاوان یې هم پر مشتری دی، ولې دلته یې تاوان د ثمن په وسیله ورکول کېږي. د دې او پورتني حالت د تاوان ترمنځ توپیر شتون لري، هلته د قیمت په اساس او دلته د ثمنو په وسیله تاوان ورکول کېږي (زحیلی، ۲۰۱۲: ۳/ ۱۸۰ - ۱۸۱).

د مالکي فقهاوو په نظر که مبیعه د بایع په لاس کې لمنځه لاړه شي، نو په تاوان کې یې کوم اختلاف نشته؛ بیع فسخ کېږي او تاوان هم پر بایع دی. خو که مبیعه د مشتري په لاس کې هلاکه شي، نو پدې اړه بیا د رهن او عاریت حکم کېږي؛ که مبیعه د داسې اشیاوو څخه وي چې د هغې د پټولو امکان وي، لکه سره زر، جامې او نور. نو مشتري به بایع ته د اکثره ثمنو یا قیمت

ضامن وي؛ ځکه چې بایع د بیعې د نافذولو حق لري. ولې که شاهدانو د مبیعې په له منځه تللو شاهدي ورکړه، نو بیا مشتري ضامن نه دی او په تاوان ورکولو نه مجبوریږي. خو که مبیعه د داسې توکو څخه وي چې د هغې پټول ناشونې وي، لکه ځمکه او نور، نو بایع د مشتري له قسم وروسته ضامن دی، پدې شرط چې د مشتري درواغ څرګند نشي (ابن رشد، ۲۰۰۹: ۸۷۸ - ۸۷۹).

شافعي فقهاء وايي که مبیعه د آسماني آفت له مخې ضایع شي او یواځې بایع د خیار څښتن وي، نو بیع فسخ کېږي؛ ځکه چې د بایع د قبضې د باقي پاتې کېدلو پرمهال د مبیعې د هلاکېدو په صورت کې عقد فسخ کېږي، نو د ملکیت د باقي پاتې کېدو په صورت کې خو حتماً عقد فسخ ګرځي. ځکه چې له تلف کېدو وروسته د ملکیت انتقال ممکن نه دی؛ خیار ساقطېږي، عقد فسخ ګرځي او مشتري د قیمت ضامن دی. د دوی په نظر که یواځې مشتري یا دواړه لوري خیار ولري او مبیعه د مشتري له قبضې وروسته تلف شي، نو بیع نه فسخ کېږي؛ ځکه چې مبیعه د قبض په وسیله د هغه په ضمان کې داخله شوې، نو پر مشتري ثمن لازمیږي، پدې شرط چې عقد فسخ نه شي؛ خو که عقد فسخ شي، بیا پر مشتري قیمت یا د هغې مثل لازم ګرځي (الجزیری، ۱۴۲۴ ق: ۱٦۴).

حنابله فقهاء د شرط د خیار په موده کې د مبیعې ملکیت مشتري ته ثابتوي او وايي چې د خیار د محل تاوان پر مشتري دی. ځکه چې مبیعه د مشتري ملکیت دی، عاید یې هم د هغه دي او تاوان یې هم پر مشتري دی. دا د هغه حالت په څېر دی چې د خیار د مودې له تېریدو وروسته مبیعه د مشتري وي او مصارف یې هم په مشتري وي. همدارنګه د مبیعې له منځه تلل د قبضې څخه وړاندې وي او که وروسته؛ پروا نه لري. البته د خیار محل به مکیلي او موزوني او دې ته ورته لکه عددي اشیاء او نور نه وي او بل شرط بیا دا ذکر کوي چې د قبضې نه شتون به د بایع د مخنیوي څخه رامنځته شوی نه وي. ولې که د خیار محل مکیلي، موزوني یا ورته نور توکي وي؛ نو بیا پر مشتري د تاوان لپاره قبض شرط دی؛ که د مشتري قبضه صورت ونه نیسي، تاوان یې پر بایع دی (الزحیلی، ۲۰۱۲: ۳/ ۱۸۱).

د خیار په موده کې د خیار د محل د له منځه تللو د تاوان په اړه د افغانستان مدني قانون کوم ځانګړی صراحت نه لري، چې دا د مدني قانون یوه خلا او نیمګړتیا ګڼل کېږي.

**۲-۲-۴. د خیار د محل پر زیاتوالي د شرط د خیار اثر**

د شرط خیار د معقود علیه پر زیاتوالي هم اثر لري. د خیار د محل د زیاتوالي په اړه دوه خبرې ډېرې مهمې دي: لومړی دا چې د زیاتوالي څښتن به څوک وي؟ دویم دا چې د زیاتوالي رامنځته کېدل د مبیعې د ردولو مانع گرځي؛ یعنې خیار پای ته رسوي، د خیار په څښتن عقد لازم گرځي او د فسخې اختیار یې پای ته رسېږي.

د معقود علیه پر زیاتوالي د خیار د آثر په اړه د اسلامي فقهاوو څخه مختلف نظریات رانقل شوي. احنافو په مبیعه کې زیاتوالی په لاندې څلورو ډولونو وېشلی دی.

۱. هغه زیاتوالی چې د مبیعې سره متصل وي او خپله د مبیعې له اصل څخه پیدا کېږي. لکه د حیوان په وزن کې ډېروالی او د میوو پخېدل؛

۲. هغه زیاتوالی چې د مبیعې سره متصل وي، ولې د مبیعې د اصل څخه پیدا شوی نه وي. لکه د ځمکې ابادول یا په ځمکه کې د بوټي کېښنول؛

۳. هغه زیاتوالی چې د مبیعې څخه جدا وي او د مبیعې د اصل څخه پیدا شوی وي. لکه: بچی او شیدې؛

٤. هغه زیاتوالی چې د مبیعې څخه جدا وي او د مبیعې د اصل څخه پیدا شوی نه وي. لکه د کرایه شوي کور کرایه (الموسوعة الفقهية، ب ت: ۲۰/ ۱۳۱).

د زیاتوالي په اړه دا وېش یواځې احنافو ذکر کړی او د نورو فقهاو په پرتله یې دغو ډولونو ته ډېره توجه کړې. نور فقهاء ټولو ته په یو نظر گوري او یا یې یواځې د زیاتوالي دوه ډوله بیان کړي، چې عبارت دي له: متصل زیاتوالی او غېر متصل زیاتوالی؛ او د همدې دوه ډوله زیاتوالي احکام یې بیان کړي دي.

حنفي فقهاء وایې چې د اصل له مخې په مبیعه کې زیاتوالی د مبیعې ردول ممنوع گرځوي او دا ممانعت د زیاتوالي په ټولو ډولونو کې مطرح کېږي، پرته له هغه زیاتوالي څخه چې د مبیعې څخه جدا وي او د اصل څخه رامنځته شوی نه وي (څلورم ډول). دا ډول زیاتوالی په اتفاق سره د مبیعې د ردولو مانع نه گرځي. کله چې د مبیعې رد منع شي، نو عقد بشپړیږي او زیاتوالی په مطلق ډول د مشتري ملکیت گرځي (الموسوعة الفقهية، ب ت:۲۰/ ۱۳۲).

هغه زیاتوالی چې د اصل څخه پیدا شوی وي او د مبیعې سره متصل وي، لکه د حیوان په وزن کې ډېروالی. نو د امام ابوحنیفه (رح) او امام ابو یوسف (رح) مذهب دا دی چې دا ډول زیاتوالی د مبیعې ردول منع کوي او له امله یې خیار ساقطیږي (برهانپوری، ب ت: ۴/ ۲٦۸). کله چې رد

ممنوع شي نو د خيار څښتن د اصل او زياتوالي مالک ګرځي. د عقد د نافذېدو څخه دا خبره څرګندېږي چې د خيار څښتن د خيار د محل مالک دی او د زياتوالي مالک هم دی؛ که څه هم هر لوری وي. ولې د امام محمد ^(رح)^ په نظر د دا ډول زياتوالي څخه خيار نه باطليږي، نو په همدې اساس د خيار څښتن حق لري چې عقد فسخ يا نافذ کړي (الموسوعة الفقهية، ب ت: ۲۰/ ۱۳۲ - ۱۳۳).

هغه زياتوالی چې د مبيعې سره متصل وي ولې د اصل څخه پيدا شوی نه وي. لکه د ځمکې ابادول؛ همدارنګه هغه زياتوالی چې د مبيعې څخه جدا وي او د مبيعې د اصل څخه پيدا شوی وي، لکه: بچی؛ نو د حنفي فقهاوو د نظرونو په اتفاق سره دا دوه ډوله زياتوالی د مبيعې د ردولو مانع ګرځي (برهانپوری، ب ت: ۴/ ۲۶۸).

هغه زياتوالی چې د اصل څخه جدا وي او د اصل څخه پيدا شوی نه وي، د دې ډول زياتوالي په اړه د امام ابو حنيفه ^(رح)^ او صاحبينو ترمنځ د نظر اختلاف دی. البته که مشتري عقد نافذ کړي نو د اصل او زياتوالي مالک ګرځي، پدې صورت کې د اختلاف امکان نشته. ولې که مشتري عقد فسخ کړي او مبيعه بېرته بايع ته وسپاري نو آيا دا رامنځته شوی ډېروالی به هم ورکوي که څنګه؟ پدې اړه د فقهاوو مختلف نظرونه لري. د امام ابوحنيفه ^(رح)^ په نظر د اصل سره په څنګ کې رامنځته شوی زياتوالی به هم بايع ته ورکوي، ځکه چې د مبيعې ملکيت موقوف وه او کله چې يې عقد فسخ کړ، نو څرګنده ده چې مبيعه د مشتري په ملکيت کې داخل نه شوه، نو زياتوالی د بايع په ملکيت کې رامنځته شوی، مشتري به د اصل سره زياتوالی هم بايع ته سپاري. ولې د صاحبينو په نظر مبيعه د مشتري په ملکيت کې داخله شوې او زياتوالی د هغه په ملکيت کې راغلی، نو فسخ به په اصل کې رامنځته کېږي، نه په زياتوالي کې. په همدې اساس رامنځته شوی زياتوالی به د مشتري وي او اصل به بايع ته سپاري (کاسانی، ۱۴۰۶ ق: ۵/ ۲۷۰).

شافعي فقهاء وايي چې د خيار په موده کې رامنځته شوی زياتوالی چې د اصل څخه جدا وي، لکه شيدې او ميوه؛ نو دا ډول زياتوالی د هغه چا دی څوک چې د اصل مالک وي او دا هغه شخص دی چا ته چې خيار ځانګړی شوی وي. خو که دواړه لوري د خيار لرونکي وي، نو بيا د زياتوالي د ملکيت انتقال خپله د مبيعې په څېر موقوف دی. نو که بيع فسخ کېږي زياتوالی د بايع دی او که نه فسخ کېږي، د مشتري دی. هغه زياتوالی چې د اصل سره متصل وي هغه د اصل تابع دی (الموسوعة الفقهية، ب ت: ۲۰/ ۱۳۳).

د مبیعې د زیاتوالي په اړه مالکیان یو څه جدا نظر لري، دوی د زیاتوالي انفصال او اتصال په نظر کې ندی نیولی، بلکې د دوی په نظر د مبیعې هغه برخه معتبره ده کومه چې باقي پاتې وي او په عقد کې د اصل څخه جدا نه وي. د دې مثال بچی دی؛ ځکه چې دا د مبیعې د برخې په څېر دي. نو په همدې اساس بچی د مشتري ملکیت گرځي او لدې پرته نور د بایع ملکیت دی. ځکه چې د دوی په نظر د خیار په موده کې په اصل کې ملکیت د بایع وي، تر هغې چې د خیار څښتن خپل واک استعمال کړي. پدې سره دا حکم مرتب دی چې د بچي پرته نور هر ډول زیاتوالی د بایع دی. نو د مالکیانو په نظر لاندې دوه خبرې د پام وړ دي:

۱. د خیار په موده کې ترلاسه شوی عاید لکه شیدې او هگۍ د بایع دي؛

۲. د خیار په حالت کې مبیعې ته د رسیدلي تاوان جبران هم پر بایع دی (ابوغده، ۱۴۰۵ ق: ۲۸۷).

د حنبلي فقهاوو په نظر هم د خیار په موده کې رامنځته شوی زیاتوالی د مشتري دی، که څه هم متصل زیاتوالی وي، لکه عاید؛ یا هم زیاتوالی د اصل څخه جدا او د مبیعې څخه پیدا شوی وي کله مېوه او بچی؛ نو حکم یې همدا دی؛ که څه هم مبیعه د قبضې څخه وړاندې د بایع په لاس کې وي. البته دلته دا هم توپیر نه کوي چې د خیار له مخې عقد نافذ او یا فسخ کړل شي. په دواړو صورتونو کې رامنځته شوی زیاتوالی د مشتري دی (الموسوعة الفقهیة، ب ت: ۲۰/ ۱۳۳ - ۱۳۴).

ابن قدامه (رح) د دې مذهب لپاره د رسول الله (ص) په هغه حدیث شریف استدلال کوي چې فرمايي: گټه د ضمانت په اساس ده. یعنې گټه د هغه چا ده چې په هغه ضمانت لازم وي. دلته ضمانت د مشتري دی؛ نو زیاتوالی هم د مشتري دی. همدارنگه دوی داسې استدلال هم کوي چې د مبیعې ملکیت د مشتري ملکیت ته انتقال شوی، نو زیاتوالی هم په انتقال کې د مبیعې پیروي کوي او د مبیعې د ملکیت سره یوځای د زیاتوالي ملکیت هم مشتري ته انتقال شوی دی (ابن قدامه، ۱۴۱۷ ق: ۱/ ۸۰۱).

د افغانستان په مدني قانون کې د خیار په موده کې په مبیعه کې د رامنځته شوي زیاتوالي په اړه کوم صریح حکم نشته.

**۲-۲-۵. د عوضينو په سپارلو د شرط د خيار آثر**

فقهاء پدې خبره متفق دي چې کله بيع مطلقه وي او سپارل پکې شرط نه وي، نو د خيار په موده کې پر عاقدينو د عوضينو سپارل واجب نه دي؛ نه پر بايع د مبيعې سپارل لازم دي او نه هم په مشتري د ثمن. ځکه چې تر څو د خيار موده پوره شوې نه وي يا د خيار څښتن خيار ساقط کړی نه وي، نو د عقد د فسخې احتمال شته. تر کوم ځايه چې په خپله خوښه د ثمن او مبيعې د سپارلو خبره ده، نو د فقهاوو په نظر د دې کار کوم ممانعت نشته. يعنې د عوضينو په سپارلو سره خيار نه باطليږي. نو که د عاقدينو څخه يو يا دواړه لوري د خيار په موده کې د خپلې قبضې څېز په سپارلو کې چټکي وکړي، نو دا کار جايز دی، که څه هم هر يو لوری د خيار څښتن وي؛ دا سپارل په خيار هېڅ ډول اغيز نه کوي. په همدې اساس بايع ته د ثمنو سپارل او مشتري ته د مبيعې سپارل خيار نه باطلوي، پدې شرط چې بايع مشتري ته مبيعه د کتلو او ارزولو په غرض سپارلې وي. خو که بايع مبيعه د مشتري د مالک گرځولو لپاره ورته سپارلې وي او بايع د خيار څښتن وي، نو پدې صورت کې خيار باطليږي (الموسوعة الفقهية، ب ت: ۲۰/ ۱۳۴).

که د عاقدينو څخه يو يې په خپله خوښه عوض وسپاري او مقابل لوری يې ونه سپاري، نو پدې اړه د امام ابوحنيفه (رح) مذهب دا دی چې دويم لوری به په سپارلو نه مجبوريږي او لومړنی لوری د عوض د بېرته اخيستلو حق لري. د شوافعو مذهب هم همدا دی. دوی وايي چې که يو لوری پدې نيت عوض وسپاري چې مقابل لوری به يې هم ورته عوض سپاري او بيا دا کار ونه شي، نو لومړنی شخص بېرته د خپل سپارل شوي عوض د اخيستلو حق لري (برهانپوری، ب ت: ۴/ ۲٦۳).

د افغانستان په مدني قانون کې د شرط د خيار په موده کې د عوضينو د سپارلو او نه سپارلو په اړه کوم صراحت نشته؛ ولې د ياد قانون په ٦۵۵ مه مادّه کې ذکر شوي چې د شرط په خيار کې مال د خيار د څښتن د ملکيت څخه نه خارجيږي.

**۳. مناقشه**

که څه هم د اسلامي فقهاوو ترمنځ د شرط د خيار د آثارو په اړه په ځينو مسائلو کې د نظر اختلاف شتون لري، ولې بيا هم د افغانستان د مدني قانون په پرتله په اسلامي فقه کې د شرط د خيار د آثارو اړوند احکام په خورا تفصيل سره بيان شوي دي. په اسلامي فقه کې بيا د نورو درې گوونو مذاهبو په نسبت په حنفي مذهب کې د شرط د خيار اړوند آثار په ډېر ښه او مدلل شکل واضح

شوي او هره موضوع يې په بشپړو جزیاتو سره بیان کړې ده. د مثال په ډول د شرط د خیار د مودې پر مهال د خیار په محل کې رامنځته شوی زیاتوالی حنفي فقهاوو په خورا دقیق شکل په څلورو ډولونو وېشلی او اړونده احکام يې ورته ذکر کړي دي. د دوی په نظر په مبیعه کې لومړني درې ډوله رامنځته شوی زیاتوالی په اتفاق سره د مبیعې د بېرته ردولو مانع گرځي او د خیار د څښتن خیار له منځه وړي. البته یواځې هغه زیاتوالی چې د اصل څخه جدا وي او د اصل څخه رامنځته شوی نه وي، نو دا ډول زیاتوالي د مبیعې د ردولو مانع نه گرځي. همدارنگه د خیار په موده کې د خیار د محل د له منځه تللو د تاوان په اړه د احنافو نظر نسبت نورو فقهاوو ته غوره دی، ځکه چې دوی په ډېر ښه تفصیل سره بېلابېل حالات په جدا جدا ډول ذکر کړي او د هغوی احکام یې بیان کړي دي. البته د خیار نورو آثارو لکه د عقد د حکم، د خیار له خاوند څخه د ملکیت د انتقال او د عوضینو د سپارلو په تړاؤ د اسلامي فقهاوو د نظریاتو ترمنځ ډېر توپیر نه لېدل کېږي. د افغانستان د مدني قانون یواځې ٦٥٥ مه مادّه د عقد د آثارو په اړه ذکر کوي چې که په معاوضه عقدونو کې د شرط خیار د عقد دواړو خواوو یا یوې خوا ته ورکول شوی وي، نو د خیار د خاوند مال د هغه د ملکیت څخه نه وځي او د بلې خوا مال هم د خیار د خاوند په ملکیت کې نه داخلېږي. ولې د خیار د نورو آثارو په تړاو په مدني قانون کې احکام شتون نه لري.

**۴. پایله اخیستنه**

د شرط خیار پر عقد بېلابېل آثار پرېباسي؛ لکه د خیار له امله سمدلاسه د عقد حکم نه مرتبیږي او د خیار د لمنځه تللو پورې د عقد حکم موقوف پاتې کېږي. د خیار د شتون له امله د خیار د څښتن مال د هغه له ملکیت څخه نه خارجیږي او عقد یې په اړه لازم نه گرځي. همدارنگه د خیار په موده کې د مبیعې په زیاتوالي او نقصان باندې هم خیار شرط ځانگړي آثار لري، سربېره پر دې د خیار په موده کې دواړه لوري د عوضینو په سپارلو هم ملزم نه دي. د دې خبرې یادول هم اړین دي چې د اسلامي فقهې په نسبت د افغانستان په مدني قانون کې د شرط د خیار د آثارو په اړه لږ احکام پېشبیني شوي؛ چې دا د مدني قانون یوه خلا او نیمگړتیا گڼل کېږي.

**ORCID**
**Mairajuddin Aminzai** **https://orcid.org/0009-0006-6669-0739**

**د دې مقالې د ارجاع لپاره (APA):**
. امینزی، معراج‌الدين. (۱۴۰۳). «د اسلامي فقهې او افغانستان مدني قانون له نظره د شرط د خيار آثار». غالب علمی – څېړنيزه ژورنال. ۱۳(۴). ۱۴۵– ۱۶۴. https://doi.org/10.58342/ghalibqj.V.13.I.4.8

**To Cite this Article (APA):**
. Aminzai, Mairjuddin. (2024). “The effects of the Option of a Condition from the Perspective of Islamic Jurisprudence and Afghan Civil law”. *Ghalib Journal.* 13(4). 145-164. https://doi.org/10.58342/ghalibqj.V.13.I.4.8

---

## سرچينې

۱. ابن باز، عبدالعزيز او نور. (۱۴۳۳ ق). **۵۰۰ سوال و جواب برای خريد و فروخت**. ترجمه: حافظ عبدالجبار. لاهور: بيت السلام.

۲. ابن رشد، محمد بن احمد. (۲۰۰۹ م). **بداية المجتهد و نهاية المقتصد**. ترجمه: عبيدالله فهد فلاحی. لاهور: دارالتذکير.

۳. ابن طاهر، الحبيب. (۱۴۳۰ ق). **الفقه المالکی وادلته**. ج ۱. بيروت: المعارف.

٤. ابن قدامه، عبدالله بن احمد بن محمد. (۱۴۱۷ ق). **المغني**. ج ۱. تحقيق: عبدالله بن عبدالمحسن و عبدالفتاح محمد بن الحلو. دريم چ. الرياض: دار عالم الکتب.

۵. ابوغده، عبدالستار. (۱۴۰۵ ق). **الخيار واثره فی العقود، مدخل الی نظرية الخيار ودراسة فقهية مقارنة لاحکام ۳۳ خياراً**. ج ۱. دوهم چ. الکويت: مطبعة مقهوی.

٦. برهانپوری، نظام الدين او نور. (ب.ت). **فتاوی عالمگيری جديد اردو**. ۴ ج. مترجم: سيد اميرعلی. لاهور: مکتبه رحمانيه.

۷. الجرجانی، علی بن محمد بن علی. (ب. ت). **کتاب التعريفات**. مردان: اعزازيه.

۸. الجزيري، عبدالرحمن.(۱۴۲۴ ق). **کتاب الفقه علی المذاهب الاربعة**. ج ۲. بيروت: دارالکتب العلمية.

۹. رسولی، عبدالحسين. (۱۳۹٦ ش). **قواعد عمومی قراردادها (مطالعه تطبيقی حقوق افغانستان باکشورهای عربی)**. کابل: فرهنگ.

۱۰. الزحيلی، وهبة. (۲۰۱۲ م). **الفقة الاسلامي وادلته**. ج ٦. ترجمه: ابرار حسين و محمد يوسف تنولی. کراچی: دارالاشاعت.

۱۱. ژوبل، محمد عثمان. ( ۱۳۸۳). **ترجمه و تدوین مجلة الاحکام العدلیة**. ج ۱. دوهم چ. کابل: کمیسون مستقل اصلاحات عدلي و قضایي.

۱۲. سکروډهوی، جمیل احمد. (۲۰۰۶). **اشرفُ الهدایه شرح اردو هدایة**. جلد ۸، کراچی: دارالاشاعت.

۱۳. سمیران، علی. (۱۴۲۹ ق). **أثر الوقت في خیارالشرط**. المجلة الاردنیة فی الدراسات الاسلامیة. المجلد ۴. العدد ۳.

۱۴. شایق، احسان الله (۲۰۰۷ م). **جدید معاملات کی شرعی احکام**. ج ۱. کراچی: دارالاشاعت.

۱۵. شلبی، محمد مصطفی.(۱۴۰۵ ق). **المدخل في الفقه الاسلامي**. دوهم چ. بیروت: الدار الجامعیة.

۱٦. عبد الله، نظام الدین.(۱۳۹۵ ش). **شرح قانون مدني افغانستان حقوق وجایب**. ج ۱. کابل: انتشارات سعید.

۱۷. عثماني، محمد تقی. (۲۰۱٦ م). **اسلامی قانون خرید و فروخت**. مترجم: فرید احمد کاوی. گجرات: جامعه علوم القرآن جمبوسر.

۱۸. عدلیې وزارت. (۱۳۵۵). **مدني قانون**. دویم کتاب. رسمي جریده. ۳۵۳ گڼه.

۱۹. کاسانی، علاءالدین ابی بکر بن مسعود. (۱۴۰٦ ق). **بدائع الصنائع فی ترتیب الشرائع**. الجزء ۵. دوهم چ. بیروت: دارالکتب العلمیه.

۲۰. لاهوری، عمران ایوب. (۲۰۱۰ م). **تجارت کی کتاب**. لاهور: فقه الحدیث.

۲۱. محمود، خالد او نور. (۱۴۲۹ ق). **فقه حنفي قرآن و سنت کی روشنی مین**. ج ۲. لاهور: اداره اسلامیات.

۲۲. وزارت اوقاف و اسلامی امور کویت. (ب.ت). **موسوعه فقهیه**. ج ۲۰. اردو ترجمه: مجمع الفقه الاسلامی الهند. نئی دهلی: جامعه‌نگر.

## References

1. Ibn Baz, Abdulaziz et al. (1433 AH). 500 Questions & Answers for Buying and Selling. Trans: Hafiz Abdul Jabar, Lahore: Bait-u-Salam. (in Urdu)
2. Ibn Rushd, Mohamad bin Ahmad. (2009 AD). Bidayatul Mujahid wal Muqtasid. Trans: Ubaidullah Fahd Falahi, Lahore: Dar-u-Tazkeer. (in Urdu)
3. Ibn Tahir, Alhabib. (1430 AH). Al Fiqa ul Malikee Wa adilatuhu, Volume 1, Beirut: Al-Muarif. (in Arabic)
4. Ibn Qudama, Abdullah bin Ahmad bin Mohamad. (1417 AH). Al-Mughni, with the research of Abdullah bin Abdul-Muhsin and Abdul-Fatah Mohamad bin alhalu, third edition, Riyadh: Dar-ul-alam al-kutub. (in Arabic)

5. Abu Ghuda, Abdul-Satar. (1405 AH). Al Khyar Wa Asaruhu fi al-Uqud, Mudkhal ila Nazeryatul al Khyar wa Derasat Fiqheea Muqarinat al ahkam 33 Kheyara, Volume1, second edition, Kuwait: Maqhawi Publication. (in Arabic)
6. Burhanpori, Nizamuddin et al. (No Date). Fitawa Alamgeree Jadid Urdu, Volume 4, Trans: Sayed Amir Ali, Lahore: Maktaba Rahmaniya. (in Urdu)
7. Al-Jurjanee, Ali bin Mohamd bin Ali. (No Date). Kitab-u-Tarifat. Mardan: Izaziya. (in Arabic)
8. Al-Jaziree, Abdurahman. (1424 AH). Kitab-ul- Fiqa Ala Mazahib Al araba, Volume 2, Beirut: Dar al-Kutub al-Ilmiya. (in Arabic)
9. Rasooli, Abdul Husain. (1396 HS). Qawaed Umumee Qarardadha (Mutalia Tatbiqee Huqoq Afghanistan ba kishwarhaee arabee), Kabul: Farhang. (in Persian)
10. Al-Zuhalee, Wahba. (2012 AD). Al-Fiqa al-Islami Wa Adelatohu, Volume 6, Trans: Ibrar Husain and Mohamad Yousaf Tanoli, Karachi: Dar al-Ishaat. (in Urdu)
11. Zhubal, Mohamad Usman. (1383 HS). Tarjuma Wa Tadween Mujalatul Ahkam al-Adleeya, Volume 1, second edition, Kabul: Independent Commission of Judicial and Legal Reforms. (in Persian)
12. Sakrudhawi, Jamil Ahmad. (2006 AD). Ashrafu al-Hidaya Sharha Urdu Hidaya, Volume 8, Karachi: Dar al-Ishaat. (in Urdu)
13. Sameeran, Ali. (1429 AH). Asar al-Waqt Fi Kheyar al-Shart. Al-Mujalatul Urdaniya Fi Darasat Al-Islamiya, Volume 4, No 3. (in Arabic)
14. Shaiyaq, Ihsanullah. (2007 AD). Jadid Muamilat Ki Sharee Ahkam, Volume 1, Karachi: Dar al-Ishaat. (in Urdu)
15. Shablee, Mohamad Mustafa. (1405 AH). Al-Mudkhal Fi Fiqa Al-Islamiya, tenth edition, Beirut: Dar al-Jamiya. (in Arabic)
16. Abdullah, Nizamuddin. (1395 HS). Sharha Qanoni Madani Afghanistan: Huqoq Wajaeeb, Volume 1, Kabul: Intisharat Saeed. (in Persian)
17. Usmani, Mohamad Taqi. (2016 AD). Islami Qanon Khareed wa Furookht. Trans: Fareed Ahmad Kawi, Gujrat: Jamiya Ulom ul-Quran Jambuser. (in Urdu).
18. Ministry of Justice. (1355 HS). Civil Code of Afghanistan. Volume 2, Official Gazette, No 353. (in Pashto)
19. Kasani, Alauddin Abi Baker bin Masud. (1406 AH). Badee al-Sanaee Fi tarteeb al-Sharaee, Volume 5, second edition, Beirut: Dar al-Kutub al-Ilmiya. (in Arabic)
20. Lahori, Imran Ayoob. (2010 AD). Tujarat Ki Kitab. Lahore: Fiqa al-Hadees. (in Urdu)
21. Mahmood, Khalid et al (1429 AH). Fiqa Hanafi Quran wa Sunat Ki Roshani Mai, Volume 2, Lahore: Idara Islamyat. (in Urdu)
22. Ministry of Awqaf and Islamic Affairs of Kuwait. (No date). Masua al-Fiqhiya, Volume 20, Trans: Islamic Fiqa Acadmey India, New Deli: Jamia Nagar. (in Urdu)